A Reflection of Our Life

QUARTERLY YOON PESHAWAR

April-June 2017
Editor: M. Akbar Hoti
Co-Editors: Abdul Latif & Sajjad Jwandoon
Designing and Photography: Abdul Majid Khan
Illustration and Painting: Pir Hamid Khesgi
Advisory Council: Ajmal Khan, Shahbaz Khan, Naeem Safi, Riaz Khan
Languages and Literature Unit
Directorate of Culture Khyber Pakhtunkhwa, Peshawar
Contacts:
Phon: 0919211200
Fax: 0919211220
Email: yooneditor@culture.kp.gov.pk
Web: www.culture.kp.gov.pk/homepage/e_magazine

سہ ماہی یون پشاور

اپریل تا جون ۲۰۱۷

مدیر! محمد اکبرہوتی

معاونین! عبدالطیف، سجاد ژوندون

ډیزائننگ و فوټو گرافی عبدالماجدخان

السټریشن و پینټنگ: پیر حامد خویشگی

مشاورتی کونسل: اجمل خان، شہباز خان، نعیم صافی، ریاض خان

اہتمام: زبان او ادب یونټ محکمہ ثقافت خیبرپختونخوا

رابطہ:

فون: ۰۹۱۹۲۱۱۲۰۰

فیکس: ۰۹۱۹۲۱۱۲۲۰

ای میل: yooneditor@culture.kp.gov.pk

ویب سائیټ: www.culture.kp.gov.pk/homepage/e_magazine

# CONTENTS


بي بي شاه بوره  7

د پښتو ډرامې عروج او زوال  9

روپۍ  12

"ښېره" د پښتو ادب  13

خيرنې جامې  15

غیر مادی ثقافت اور---  17

ضلع سوات کی تحصیل کالام  19

چھوٹی زبانوں میں ادب کی تخلیق  20

خیبر پختونخوا کا ادبی و---  22

ننوژان  25

کوږ کو انجام  27

کچھ بلتی زبان کے بارے میں  29

توروالی لوک شاعری  31

Peshawar A Creative City  34

Artisan Village  35

Culinary Art Of Kp  37

Masoolo/masoolo Baat  40

Pakhtunwali: As Pukhtun Code Of Life  42

# صدائے یون

محکمہ ثقافت کے تاریخ کا پہلا ای میگزین "یون" پختونخوا کے ثقافت کی ترقی اور ترویج کے لئے اپنی منزل کی طرف رواں دواں ہے اور خدا کے فضل کرم سے "یون" کا تیسرا ایڈیشن برائے ماہ جولائی تا ستمبر ۲۰۱۷ اپنی قارئین کے لئے پیش کیا جارہا ہے ۔ گذشتہ ۲ کامیاب شماروں کے بعد نہ صرف قارئین کی تعداد میں خاطر خواہ اضافہ ہوا ہے بلکہ علم و دانش رکھنے والوں اور ادبی ستاروں نے اپنی تخلیقات سے "یون" کو چارچاند لگائے ہیں  جوکہ اطمینان کا باعث ہے۔ محکمہ ثقافت کی بنیادی مقصد  یہ ہے کہ "یون" کے ذریعے خیبرپختونخوا کی ثقافت، زبان اور ہنر کو عالمی سطح پر روشناس کیا جائے ہر مقصد کو پانے کے لئے حوصلے، عزم اور لگن کی ضرورت ہوتی ہے اور اگر یہی  جذبے ساتھ ہو تو کسی بھی میدان میں آگے بڑھنے کے لئے پیش آنے والی رکاوٹیں پھلانگی جاسکتی ہیں اور راستے میں آنے والی مشکلات کو کامیابی سے عبور کیا جاسکتا ہے

"یون" دراصل اردو، پشتو اور انگریزی کے ساتھ ساتھ ان تمام زبانوں کو یکساں مواقع فراہم کرنے میں یقین رکھتا ہے جو خیبرپختونخوا میں بولی جاتی ہے اسی طرح ان تمام زبانوں میں تخلیق شدہ ادب کو محفوظ رکھنے میں مدد بھی ملے گی جو کہ تاریخ کا حصہ بنے گی۔

مجلہ میں مادی اور غیرمادی ثقافت اور ثقافتی صنعت کو محفوظ کرنے کے لئے فن پارے "یون" میں شامل کئے جارہے ہیں، تاکہ ادب اور ادبی ثقافت کا حصہ تاریخ میں محفوظ رہے

امید ہے کہ محکمہ ثقافت "یون" کو اسی طرح جاری و ساری رکھے گی بذریعہ انٹر نیٹ خیبرپختونخوا کی ثقافت، زبان اور ادب کی ترویج یونہی جاری رہے گی۔ یہی طریقہ ثقافت کی فروغ میں کلیدی کردار ادا کریگا اور یہی آنے والے وقتوں میں خیبرپختونخوا کی پہچان بنے گی۔

# *The journey of Yoon*

With the grace of Almighty this is the 3rd edition of Yoon e-magazine, for quarter of July-September 2017. It is encouraging to know that the number of readers of this e-magazine have been increasing since the last two editions. A lot of material has been received in different languages of KP to be published in this quarterly e-magazine and in upcoming editions.

Yoon promotes equality of all languages and is providing equal opportunities to the writers of all languages of KP to submit their written work in any language of KP including English, Urdu and Pashto. This approach will provide help in reviving dying languages of KP as well as promote research and literary practices in the province. Directorate of Culture is enthusiastically working for revival and promotion of KP Culture heritage. On languages and literature frontiers, these objectives of revival and promotion are achieved through e-magazine Yoon. Writers are encouraged to submit articles about cultural heritage of the province. With the positive hope, that this serious effort will continue to progress.


Directorate of Culture
Government of Khyber Pakhtunkhwa



# بي بي شاه بوړه د يوې اتلې د ژوند حال

نائله شمال ساپي



د نړۍ په مخ چې څومره هم قامونه تېر شوي دي يا روان دي تېرېږي دغهٔ ټول د ښهٔ او بد سازګار او نا سازګار وختونو او حالاتو سره مخ شوي دي ـ په مختلفو وختونو کښې دغه خلقو خپلې متې خپلې تورې او زور د خپل دښمن خلاف پکارولي دي ـ هم دغسې ئې خپل ځان د تاريخ په پاڼو کښې خوندي کړے دے ـ دغه لړۍ کهٔ مونږه په تاريخي لحاظ سره وګورو نو کله کله د سړو سره سره زنانه هم په مېدان کښې د کارنامو سختنې پاتې دي ـچې غوره مثال ئې په اسلامي تاريخ کښې د پېغمبرانو او صحابه کرامو د بيبانو دے ـ خو که دغه لړۍ مونږه د پښتون قام د پلټو نو هم دغسې غوره مثال ئې د روښاني تحريک د مور يعنې د بي بي شمسو دے ـ چې د خپل خاوند او خپلو زامنو سره سنګ په سنګ ولاړه وه ـ دغسې که مونږه مخکښې راځو نو بي بي الائي ، د مېوند ملاله او د سوات ملاله پورې دا سر رارسي ـ خو ولې بيا هم کهٔ مونږه هر تهذيب لولو نو زنانه پکښې صرف د جنس تر حده اهميت ورکول کېږي ـ او د دې همت او کارنامې صرف په دې وجه نظرانداز کېږي چې دا زنانه ده ـ لکه دا وخت مونږ د هند د يو کتاب نه عبارت د بېلګې په طور موجود دے ـ

”د ښځې وجود صرف د دې د پاره دے چې دا دې نسل ډېروي د دې پالنه او پرورش دې کوي او د کور په کار کښې دې ځان مصروفه ساتي ـ“ (منو سمدتي باب ۹ اشلوک نمبر ۲۷)

هم دغسې پښتنې معاشرې هم دغه خبره په دې ټکو کښې کړې ده چې ”ښځه يا د کور ده يا ده ګوره ده ” خو زما په خيال دا خبره بالکل غلطه ده ـ ځکه چې زمونږ يواځې نه که د هر چا حساب وکړے شي نو د سړو نه ښځې په تعداد کښې ډېرې دي۔ او کهٔ دغسې ښځې صرف د کوره پورې محدود پاتے شي نو لکه چې نيم انسان دې په دېوالونو کښې بندي کړل ـ او هم دغسې د ژوند ګاډے په يو پښه شل شي ـ

په دې ليک کښې نن مونږه د يوې داسې بهادرې اتلې ننګيالۍ قيصه وړاندې کوو د چا نوم چې تاريخ پټ ساتلے دے چې نامه ئې وه بي بي شاه بوړه او په شاه بوړهۍ مشهوره وه ـ

شاه بوړۍ په عمر خېل دلازاکو کښې يوه پښتنه وه چې د اکبر په زمانه کښې پېدا وه ـ د عبدالرحمان عمرخېل لُور وه ـ رستم او عبدالرحمان د خپل وخت ياد عمر خېل وو ـ هر کله چې شاه پوړه د پېغلتوب دور ته ورسېده نو خداے پاک د دې په زړهٔ کښې د سړو د لباس سره مينه اخلې وه ـ هم د دغې دور نه ئې د سړو د جامې اغوستې او د سړو خويونه ئې کول ـ هر وخت به د زلمو سره بې له څهٔ ويرې او بې له څهٔ شرمه په محفلونو کښې ناسته وه ـ کمر بند به ئې اچولې وهٔ او په اس به ګرځېده ـ تير اندازي به ئې کوله او د نخښې وشتو مشهوره لوبه کښې به ئې برخه اخستله ـ په شهسوارۍ کښې ئې مثال نهٔ وهٔ ـ تُوره به ئې ډېره سخته چلوله داسې څوک نهٔ وو چې د هغې تُوره ئې ټمبولې وي ـ په جرګو او مرکو کښې به شاملېده ـ د وادهٔ د ژوند او زمه دارو نه به ئې نفرت وهٔ ـ ښځو سره به ئې نهٔ ناسته کوله او نهٔ به ورسره خبرې ـکهٔ چرې چا به ورته د خاوند يا د وادهٔ بلنه ورکوله نو په دې به داسې لګېده لکه چې څوک د مرګ بلنه ورکوي ـ شابوړه پاکه او حياناکه ښځه وه خکه خو بې ويرې او بې ترخې د سړو سره په صف کښې ولاړه وه ـ مال دولت وينځې او غلامان ئې بې بها لرل له دې وجې ئې په شهرت کښې هم څهٔ کمے نهٔ وه ـ

يوه ورځ د شاه بوړې څهٔ غلامان وتښتېدل د هغوي د نيوو په غرض شابوړې د خپلو رشته په مرسته راووته ـ هم په دغه موقع شپه راغله د څوکۍ په طور دوه دوه کسانو د علاقې يو يو لار سارله ـ کله چې شپه شوه نو شابوړې د خپل رشته رستم عمر خېل سره هم دا صلاح وکړه چې يو تن به اودهٔ کېږي او يو تن به څوکۍ کوي ـ هم دغسې اول رستم اودهٔ شو او شابوړې څوکېداري کوله ـ او کله چې رستم راويښ شو نو شابوړه اودهٔ شوه ـ په رستم خپل نفساني خواهشات غالب شول او د شېطان لمسه ورسره ملګرې شوه ـ رستم زړهٔ کښې اراده وکړه چې په شابوړه لاس واچوي او د ځان سره ئې بدنامه کړي ـ د رستم خيال وهٔ چې کېديشي هم په دې طريقه شابوړه د هغه په لاسو راشي ـ خو د رستم سره دا ويره هم وه چې کهٔ په داسې حالت کښې شابوړه په ما راويښه شوه نو وژلے به ئې يم ـ

رستم ځان ته خپل اس تيار ودروهٔ او د شابوړې تُوره ئې د هغې نه يو طرف ته پټه کړه ـ هر کله چې دے راغے او شابوړې ته ئې په اودو په مخ تېز چک ولګولو چې ورسره د هغې د مخ نه وينه روانه شوه ـ شابوړه راوېښه شوه خو رستم په تېښته کښې کامياب شو۔ چې سحر شو نو د شابوړې په مخ چاپ د هغې د بې عزتۍ علامت ښکارېدو ـ

په ټولو دله زاکو کښې دا خبره خوره شوله په دې د شرم د لاسه د کور نه بهر تلل هم منع شول ـ په کور دننه شابوړې هم دا سوچ کوهٔ چې رستم په څهٔ طريقه قتل کړي ـ خو دا سوچ ئې هم کوهٔ چې کهٔ زهٔ رستم اوس قتل هم کړم دا داغ زمانه نهٔ ځي نو بهتره دا ده چې رستم سره وادهٔ وکړمه ـ دې دا خيال خپلو مشرانو ته بيان کړو او هغوي د وادهٔ تياريانې وکړې او دغه شان شابوړه ناوې شوه او رستم



ته وادهٔ شوه ـد وادهٔ نه پس هغې ستر پرده شروع کړل خو ولې وسله ئې بيا هم د ځان سره ساتله ـ کله کله به د خپل خاوند سره په جنګونو کښې شريکېده او ښهٔ په بهادرۍ به ئې ګټه کوله ـ

هر کله چې باچا په دوي حمله وکړه په دغه وخت رستم په کټ کښې په ناجوړه حال پروت وهٔ ـ د مغلو لښکر په ټول کلي راخور وهٔ او بلها خلق ئې ووژل ـ په داسې حالت کښې شابوړې خپل خاوند ته دلاسه ورکړه چې تهٔ بې فکره شه زهٔ به مقابله کومه ـ

شابوړې خپل خاوند چوپال ته دننه کړو او خپل تُوره او کمان ئې په شا وتړل ـ د خپل کور په دروازه کښې کښېناسته او د غشو ګېډې ئې خوا کښې کښېودو ـ کله چې لښکر د دې د دروازې په لور روان شو ـنو دې غشي ورول شروع کړل ـ بلها مغل ئې په غشو سُوري سُوري کړل ـدې سره په مغلو وارخطائي راغله او ګمان ئې وکړو چې په دې قلعه کښې جوړ څهٔ بلا ده چې زمونږه دومره کسان ئې ووژل ـ اخر مغلو قلع د هر طرف نه محاصره کړه او بې شماره غشي ئې په قلع ورول شروع کړل چې دې سره شابوړه شهيده شوله ـ

اخر چې مغل راغلل وئې کتل نو يوه ښځه کمان په غاړه مړه پرته وه ـ هغوي دا خبره باچا ته ورسوله باچا ډېر افسوس وکړو او وئيل ئې چې داسې ښځې د سړو د لاس د مرګ قابلې نهٔ وي دا به مو ماله ژوندۍ راوستې وه ـ خو خپلو فوځيانو باچا باوري کړو چې مونږهٔ ګڼله ګنې په قلعه کښې د دښمن فوځ پنا اخستې ده ـ خو چې مونږه وکتل يوه ښځه مو مړه کړې ده ـ

باچا ډېر خفګان وکړو او د هغې د بهادرۍ او ننګيالتوب ئې ښهٔ وستائل او د هغې د خاوند ته ئې د هغې د وفادارۍ په بدل کښې شاباسي ورکړل ـ کله چې به هم د باچا په وړاندې د عمر خېلو د جنګ ذکر راتلو نو باچا به د هغې د بهادرۍ ښهٔ په جار ستائنه کوله ـ

# د پښتو ډرامې عروج او زوال

سېد فرید الله شاه حساس



د کردارونو په ژبه چې د د ژوند یوه حقیي یا تصوراتي قیصه په عملي توګه کتونکو ته وړاندې شي نو دې ته ډرامه وائي ـ په پښتو کښې ډرامه هم د ناول او افسانې غوندې په تېره صدۍ کښې زېږدلې ده ـ د افضل رضا د تحقیق تر مخه په کال ۱۹۲۱ء په افغانستان کښې وړومبۍ ډرامه "یوه ورځ غېر خاضري " ښودلې شوې ده ـ دا ډرامه مولوي محمد صالح هوتک لیکلې ده ـ او په حبیبي لېسه کښې د مکتب طالب علمانو سټېج کړې وه ـ دا ډرامه د سټېج کېدو نه وړاندې په درسي کتابونو کښې شامله وه ـ

بل خوا پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت د پښتو ژبې وړومبے ډرامه نګار عبدالکبر خان اکبر ګڼي ـ چې تربور نومې ډرامه ئې په کال ۱۹۲۷ء کښې لیکلې وه سټېج شوې ده ـ پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب د ډرامې په حواله لیکي چې په پښتو کښې د ډرامې تصور څۀ غوره پټه او په حادثاتي طور نۀ ده زېږدلې ـ د پښتو په اولسي قیصو او روماني مثنویانو کښې د مودو راسې د ډرامائي عمل ډرامائي پېښو ، مرحلواو مکالموروایت په غېر محسوسه طریقه باندې روان دے ـ خصوصاً زمونږ په مقامي اولسي رومانونو لکه ادم خان درخانۍ ، موسه خان ګل مکۍ ، مومن خان شیرینۍ ، او داسې نورو قیصو کښې ځاے په ځاے بې شمېره جذباتي او لړزونکې ډرامائي ننداري کېفیتونه او کردارونه لیدے او محسوسېدې شي ـ

د اصلاحي او نیم سیاسي ډرامو په دغه دور کښې چې کښې چې کومه اولنۍ ادبي ډرامه مخې له راغله هغه د ښاغلي عبدالخالق خلیق "شهیده سکینه" وه ـ د خلیق صېب دوېمه اصلاحي ډرامه خوږ ژوندون په کال ۱۹۳۹ء کښې اولیکله ـ دا ډرامه اول په پښتون رساله کښې په قسطونو او بیا په کال ۱۹۳۹ء کښې په کتابي شکل کښي هم چاپ شوه ـ د ښاغلي خلیق د شهیده سکینه او خوږ ژوندون تر مینځه په کتابي شکل کښې د پښتو چې کومه ډرامه راغله هغه د قاضي رحیم الله "نوې روښنې " ده ـ دا ډرامه په ۱۹۳۷ء کښې ولیکلې شوه او هم په دغه کال په اول ځل چاپ شوه ـ

په کال ۱۹۳۵ء چې د پېښور رېډیو سټېشن د خپل پروګرامونو شروع وکړه نو په پښتو کښې د سټېج نه پس رېډیائي درامه پم پښتو ته راغله ـ د رېډیائي ډرمې په دغه ارتقائي دور کښې د ښاغلي محمد اسلم خان خټک "د وینو جام" یو انقلابي حېثت د ډرامه ده ـ دا ډرامه زمونږ د ډرامې په تاریخ کېښ د یو کلاسک سنګ مېل مقام لري ـ د دې ډرامې په حقله اکثر له دا خبره شوې ده چې دا ډرامه ښاغلي عبدالکریم مظلوم مظلوم لیکلې ده ـ اعظم صېب په دې حقله وائي " د وینو جام" په کښې د هر چا فکري او قلمي زیارونه شامل دي ـ خو د پښتو د ډرامائي ادب د پرمختګ کښې د ډرامې د پېروزوئنې او اهمیت یو ځان له او جدا مقام دے ـ

د رېډیو ډرامه د سټېج ډرامې په نسبت زیاته خوندوه ځکه ده وه چې په هغې کښې د صوتي اثراتو تاثر د سینونو د مزاج مطابق د میوزک استعمال او د صداکارانو داوازونو استعمال به په فني لحاظ سره ډېره په باریکۍ اورول کېدو۔ د سټېج ډرامې په نسبت د رېډیو د ډرامې د اورېدونکو دائره خوره او وسیع وه ـ دغه وجه وه چې پښتو رېدیائي ډرامې ډېر په لږ وخت د ترقۍ او کامیابۍ په لور ګامونه واخستل ـ

د رېډیو ډرامې په وده کښې د ډېرو لیکوالو خوارۍ او مېنې پېرزوئنې شاملې دي ـ په دغه لیکونکو کښې امیر حمزه شینواري ، سمندر خان سمندر ، سېد رسول رسا ، ګل افضل خان ، نثار محمد خان ، اجمل خټک ، ایاز داودزے ، ایس اے رحمان ، اشرف مفتون ، قلندر مومند ، پروفېسر افضل رضا ، عمر ناصر ، جان محمد ، زلمے ، امین الله داودزے ، ارباب رشید احمد خان ، ډاکټر محمد اعظم اعظم ، سعدالله جان برق ، زېتون بانو ، بېګم ار ار نیازي ، نورالبشرنوید ، محب الله شوق محمد اقبال اقبال ، ساحراپرېدے ، احمد امین امین ، یونس قیاسي ، فضل علي فضل ، مراد شینواري ، رحمت شاه سائل ، رشید علي دهقان ، ارباب عبدلوکیل ، رضا مهمندے ، سیده حسین ګل ، ولي محمد خلیل ، عاشق حسېن اکبرپوري ، نزیر بهټي ، سید



شهزاده بادشاه ، محمد اقبال حېران ، ګل محمد بېتاب ، همایون همدر ، حفیظ الحق کاکا خېل، مجیدالله خلیل ، لایق زاده لایق ، زبېر حسرت ، سېد خالق داد اومید، ذاهده تنها ، سېد ممتاز علي شاه ، اسیر منګل ، فضل مواد ، مشتاق شباب، عظمت هما ، او راقم سېد فرید الله شاه شامل دي ـ

رېډیو ډرامې د خپل عروج یو ډېر ښکلې او ښائسته دور لیدلې دے ـ هره هفته به په رېډیو نوې ډرامه نشر کېده ـ د ډرامې د نشر کېدو په وخت به خلق په حجره کښې ، په دکانونو ، کښې ، او کورونو کښې د رېډیو نه ګېر چاپېره ناست وو او ډېر په خاموشۍ سره به ئې رېډیو اورېدو ـ کال په کال به د رېډیو پاکستان پېښور نه د جشن تمثیل په نوم،د ډرامو مقابله کېدله ـ چې پکښې به نوموړو لیکوالانو ډرامې لیکلې او د رېډیو نوموړو پروډیوسرانو به دغه ډرامو ته د خپل فن او هنر ښکلاګانې ورکولې ـ دغه ډرامو کښې به لویو لویو صداکارانو حصه اخسته ، د جشن تمثیل د ډرامو د ریکارډنګ او نشر کېدو دوران کښې به په رېډیو پاکستان پېښور کښې واقعي چې د جشن او د خوشحالۍ رنګونه هر خوا ته خوارۀ وو ـ چرته به د ډرامې ریکارډنګ روان وۀ چرته بۀ رهر سل وۀ ـ چرته به د نوې ډرامې سکرپټ دسکس کېدۀ ـ او چرته به د ریکارډنګ شوې ډرامې په ډول سنګار کار روان وۀ ـ د دې جشن تمثیل دغه خوشحالۍ به صرف تر رېډیو پاکستان پورې محدود نۀ وې ـ دا خوشحالۍ به د اورېدونکو او سامعینو په زړونو کښې هم چپه چپه وې ـ

د پښتو ډرامې بیا پته نشته چا د نظره کړه اوس د خېره سره سودم ته شین دے چې په کال کښې چرته ډرامه نیمه وشي ، صدا کار ئې خوار دے د لیکوال ئې څوک د تپوس نشته ـ د بجټ کمے دے او د رېډیو ډرامه هغه نۀ ده کومه چې وه ـ د ترقۍ او عروج په ځاے د زوال تیارې د رېډیو ډرامې په مخ خرګندې دي ـ هغه هنر مندان او لیکوالان چې د رېډیو ډرامې ته به ئې خپلې د ژوند ساه ګانې ورکولې او دا به ئې پرې ژوندې ساتله هغو خپله د زمانې په ګردش کښې د ژوند په سفر کښې د معاش په تکل کښې یو ځاے بل ځاے وېشلي وېشلي مات ګوډ پراتۀ دي ـ په خپل فن او هنر چې د هغوي فخر وۀ اوس پرې ماتم کوي ، خو د هغوي د دغې درر احساس واکمنواو مشرانو نه نۀ کېږي ـ ځکه چې هغوي خپله خپلو نورو ډېرو غمونو کښې ډوب دي ـ

د ټېلي وژن ډرامو سره پښتو ډرامې نوے ژوند بیا موندۀ ، دا یو حقیقت دے چې پښتونخوا کښې تهېټر او سټېج ډرامې کله هم په باقاعده طور نۀ دي شوي ـ د تهېټر او سټېج ډرامو په موجودګۍ کښې پښتو ډرامه په وړاندې بوتلو کښې د رېډیو کردار او برخۀ او د هر چانه سېوا ده ـ خو د رېډیو ډرامې د ټولو نه لوے کمے دا وۀ چې په دې صرف د لیکونکي جذباتي مکالمې او صداکار اوازونه کمالات اورېدونکي د ځان سره ژړوي ، هم دغه وجه ده چې د ټي وي ډرامې ډېر په کم وخت کښې د خلقو توجو ځان پله راوګرځوله ـ په ټي وي ډرامه کښې د ماحول عکاصي د کردارونو کړۀ وړه لباس ، د کردارونو ، ناسته پاسته حرکات ، او سکنات ،

او عمل ، دا ټول دومره موثره او ژوند ته نزدې وې چې ټي ډرامه ئې په کم وخت کښې لوئ مقام ته اورسوله ـ

زمونږ په وطن کښې په کال ۱۹۶۵ کښې د ټېلي ويژن د پروګرامونو شروع وشوه ـ او د ډاکټر اعظم صېب د وېنا مطابق پښتو کښې اولنۍ ټي وي ډرامه "خپل پردي" وه ،ـ دا ډرامه د اردو د يوې ډرامې کانچ کا ګلاس" ترجمه وه ـ چې هدايټر الله خان ايډوکېټ پښتو ته راوړلې وه ـ په پښتو کښې د ټي وي د پاره اولنۍ سلسله واره ډرامه د ښاغلي سېد رسول رسا په ناول خود کشي باندې بنا شوې ډرامه ورکې لارې وه د دې ناول ډرامائي تشکيل ډاکټر اعظم صېب کړې وۀ او دا په کال ۱۹۷۵ کښې په لسو ټوکونو کښې پيش شوې وه ـ په کال ۱۹۷۷ کښې هم ډاکټر اعظم صېب روښانه تيرې نومې سلسله واره ډرامه پېش شوې ده ـ د روښانه تيرې نه پس د ټي وي د پاره چې زمونږ ليکونکو کومې سلسله وارې ډرامې وليکلې د هغې لنډه غوندې پېژنګلو دا رنګې ده ـ محمد افضل رضا صېب نوې منزل احساس ، تتې ډېوې ، مشال ، کږي لارې ، دنګې څوکې ، انتظار ، سحر ، د ګل افضل خان صېب لارې لاروي ، فقير شهزاده ، ګرداب ، د سعدالله جان برق صېب ورمې ، باور، ديوالونه نافرسان، د خالقداد اومېد صېب دروغ رښتيا،بندونه ، د نثار محمد خان "زول او ډيوه ، شپول ، د نورالبشرنويد ، بريښنا ، سلګۍ ، مېدان ، اسمان، کور ،خاپونه ، بازار ، د همايو هما تندر ، ميم زر ما ټوله زما ، د ډاکټر اعظم اعظم صېب ،ورکې لارې ، روښانه تيارې ، سيوري او ستوري ، ناموس ، زولنې ، سفر ، سمندر ، د همايو همدرد زول ، بې وزله پرهر ، مات ازغي، د سيد فريد الله شاه حساس سيوري ، سترې لارې ، رواج پټ پټونې ـ

د بد قسمتۍ نه د تېرو ديارلسو کالو راهسې د پښتو ډرامه د زوال سره مخ ده ـ سټېج ډرامه چې وړاندې هم په پښتونخوا کښې د نشت برابر وه ـاو اوس ئې هم دغه حال دے ، چې تر لرې لرې پورې ئې څۀ درک نۀ لګي ـ رېډيو او ټيلي وژن چې د پښتو ډرامې ناز وۀ ـ د هغې د تندې حال او د هغې د هسکې غړے شان وۀ ـ هلته هم اوس پښتو ډرامه ، د ډېر ګرنو او مشکلاتو ، سره مخ ده ـ هم دغه وجه ده چې د پښتوډرامې ساګانې په موجوده دور کښې دومره لنډې تنګې شوي دي ي ډېر په ګرانه ئې ګزران ګران دے ـ چرته هغۀ دور چې د رېډيو ډرامې په وخت به خلق په کورونو کښې حجرو کښې رېډيو ته ګېر دچاپېره غوږ غوږ ناست وو ـ د ټي وې ډرامې په وخت به لارې کوڅې شاړې شوې ـ هر کس به د ټي وي وړاندې داسې ناست وۀ چې توجو او فام او يکسوئې به ئې نظر نظر وۀ ـ د ټي وي په ډرامه کښې به داسې ډوب وۀ چې د خپل چاپېر چل نه به نا خبره وۀ ـ هغه حکومتي ادارې چې د ډرامې سرپرستي به ئې کوله او يا د ډرامې په ترقۍ کښې به ئې لوے لاس وۀ هغه رېډيو پاکستان او پاکستان ټېلي وژن وۀ ـ دا دواړه ادارې د تېرو څو کلونو راسې د بجټ د کمي ښکار دي ـ پي ټي وي سره وړاندې هم د پښتو ډرامې د پاره کم وخت وۀ او خو د خوند خبره پکښې دا شوه چې هغه کم او لږ وخت کښې زړې ډرامې ښودلے کېږي ـ نوې ډرامې نشته يا ډېرې کمې دي ـ دغه حل د رېډيو د ډرامې هم دے ـ اوس موجوده حالاتو کښې خو ډرامه نشته يا د نشت برابر ده ـ نو چرته چې ډرامۀ نه وي ـ هلته به عروج څۀ وي ؟

د نړۍ په ډېرو ملکونو کښې د ډرامې سره تړلي هنر مندانو ته حکومتي سرپرستي او مراعات حاصل وي ـ خو زمونږ د ملک فنکار او ليکوال بدقسمتي دا ده چې دلته هغوي سره حکومتي يا سرکاري مرسته د نشت برابر ده ـ دغه وجه ده چې د ډرامې فن کار او ليکوال د خپل فن او ليک سره وفا هم کوي او د ژوند سختو او تنګ دستو سر ه مقابله هم کوي ـ دغه مشکلات او ګرانۍ چې نور خلق ګوري نو هغوي دې فن پله راتلل خپله خود کشي ګڼي ـ ډرامه د نشت برابر کېږې ـ د ډرامې سره تړلے هنر مندان د مالي ګرانو سره مخ دي د حکومتي ادارو هم د پخوا هغه توجو نشته کومه به چې وه ـ د ډرامې زوال خو به وي ـ

نوي ليکوالو او فنکارانو او ډريکټرانو د پاره داسې چرته مناسب ځاے نشته چې دوي د ډرامې حقله ذده کړه وکړي ـ هم دغه وجه ده چې موجوده دور کښې د ډرامې ښۀ ليکوال او فنکاران د نشت برابر دي ـ د پښتو د ډرامې د زاول يوه غټه وجه دا هم ده ـ

پخوا به ټي وي ډرامه او رېډيو ډرامه ډېرو پوهو پوهو او زيرکو خلقو کوله ـ کۀ ليکونکي به وو د هغه به ځان له يو ه تجربه وه ـ کارونکي هنرمندانو او فنکارانو به ئې د خپل فن په حواله ښۀ پوهه لرله ـ کېمره ورک ، ايډيټنګ ، او ډاريکټران به ئې د خپل هنر استاذان وو ـ اوس د پرائيوېټ چېنل په برکت هر سړے ليکوال هم دے او ډارېکټر هم دے ـ اداکار هم دے او صدا کار هم دے ـ چرته چې فن دومره سپک شي او د بې قدره هنر مندو لاس ته ورشي هلته بيا د فن زوال يقيني وي ـ ښۀ ډرامه په ښۀ بجټ جوړېږي پرائيوېټ چېنلونه په کم بجټ کښې ډرامې



پورې خنداګانې کوي کم بجټ کښې ډرامه داسې وي لکه چې توکاټو کښې پکوړې پخوي ـ یا په وچه زمکه هیڅ بې هیڅ  لامبو وهي ـ یا په پرخه چې منګے ډکوي ـ یا اسمان په کاڼو ویشتل دي ـ د پرائیویټ چېنلو د ډرامې په نوم دغه فضولیات هم د موجوده پښتو ډرامې د زوال یوه غټه وجه ده ـ پښتو ژبه کښې په ډرامه لیکلې شوي مواد هم د نشت برابر دي ـپه پښتو ډرامه باندې ډېر کم لیکل شوي دي ـ نوي کول ته د راهنمائۍ او ذده کړې د پاره داسې مناسب مواد په کتابي شکل کښې نشته ـ چې هغوي ترې راهنمائي حاصله کړي ـ د پښتو ډرامې د زوال یوه وجه دا هم کېدے شي ـموجوده دور کښې پښتو ډرامه د ژوند د حقیقتونو نه ډېره لرې شوې ده ـ او څۀ ته چې په انګرېزۍ کښې ګلېمر وئیلې دي دغه ګلېمر ته ډېر نزدې شوې ده ـ د ډرامې په سکرپټ دومره توجو ورکول کېږي څومره توجو چې په ډرامه کښې په ښکلي ښکلي بنګلو ګاډو او ډېرو نور څیزونو تر یو حده پورې ډرامه کښې خوند کوي ـ یا د ډرامې د ډیمانډ مطابق خوند کوي ـ کۀ د حده زیات شي نو د ډرامې اصل روح پکښې خراب شي د موجوده ډرامې د زوال یوه وجه دا هم ده چې زمونږ موجوده ډرامه د ژوند د حقیقتونو نه ډېره لرې ده ـډرامه ارټ دے خو د کمرشلزم په دې دور کښې ترې پرائیویټ چېنلو د ګټې مشین جوړ کړے دے ـ د چېنل د مالکانو په خوښه د دولس مصالو یو داسې خوراک چې د دنیا ټول فضولیات پکښې وي خو ډرامه پکښې نۀ خو هغه تیارېږي په دغه چېنل وړاندې کېږي او د مشین غوندې رقم ترې اخلي ـ دغه فرمایشي ډرامه او دغه د ګټې سوچ هم موجوده ډرامې ته زیان ورکوي ـ

دا خو یو څو هغه عوامل وو د کومو سره چې ډرامه د زوال سره مخ شوې ده ـ اوس دلته یو سوال د هر هغه چا په ذهن کښې راتلے شي څوک چې پښتو ډرامې سره مینه لري یا ورسره تعلق لري ـ چې دا خبره خو منلې شوې ده چې پښتو ډرامه کمزورے شوي ده خو ایا دا هم داسې په خپل حال کښې پرېږدو که نا د دې  د ودیاو پر مختګ  د پاره څۀ کوششونه په مونږ فرض دي ـ نو ظاهره ده چې د دې سوال جواب به هم هغه وي کوي چې زما او ستاسو په زړۀ کښې دے ـ چې د پښتو ډرامې د ودې او پر مختګ د پاره پکاره ده چې مونږ انفرادي او قامي طور باندې کوششونه وکړو ـ چې دا خپل بام عروج ته یو ځل بیا ورسوو ـ ځکه چې ډرامه یو ډېر لوے اثر لري ـ  د دې زورور اثر د کتونکو او اورېدونکو تر زړۀ پورې رسائي لري ـ پکار ده چې مونږ دومره موثره او مضبوط ارټ د پاره هر هغه ممکن کوششونه وکړو ـ کوم چې د دې د ترقۍ د پاره کېدے شي ـځکه چې پښتو ډرامه زمونږ یو داسي قامي اثاثه ده چې مونږ پرې هر ځاے په هسکه غړے ویاړ کولے شو ـ دلته د یو څو ضروري تجویزونو ذکر زۀ  ضروري ګڼم کۀ په دې عمل اوشي نو د پښتو ډرامې ترقي به یقیني شي ـ

- د پښتنو په لوے تاریخي ښار کښې دې د نشتر هال غوندې تاریخي ځایونه جوړ شي ـ او دا خبره دې یقیني شي چې هلته دې په باقاعدګۍ سره د سټېج ډرامه یقیني شي ـ هم دغه ډرامه به زمونږ د دهشت ګردۍ زپلې صوبې د خلقو د پاره د تفریخ یوه ذریعه هم وي او هم دغلته به زمونږه راتلونکي نوي ډرامه خړپوسې هم کوي ـ نوي لیکوال اداکاران او تکنیکي مرسته کونکي به هم دغلته ذده کړه کوي ـ او بیا به دپښتنو ډرامې د پاره خپل دغه تجربه هنر او خدمات په کار راولي ـ او د ډرامې په پرمختګ کښې به خپل کردار په ښۀ طریقې سره لوبوي ـ

- په حکومتي سطح د ټي وي رېډیو او سټېج ډرامو له زیات نه زیات بجټ او فنډ منظورېږې ـ چې د معیاري ډرامې کولو لارې هوارې شي ـ

- د موجوده حکومت ثقافت کي زنده امین غوندې پروګرامونه دي جاري وساتلے شي ـ ځکه چې د فن کار او هنر مندانو مالي مرسته او خوصله افزئې سره هغوي ته د تحفظ احساس کېږې ـ او هم د دغه احساس په بنیاد هغوي خپلې فني زمه دارۍ په ښۀ توګه د پوره کولو کوشش کوي ـ د ډرامې د پر مختګ ټولې زمه وارې صرف په حکومتي ادارو اچول هم مناسب نه دي ـ پکار ده چې په دې حقله په انفرادي او اجتماعي طوګه خپلې زمه وارۍ ترسره کړو ـ په سکلونو کښې کالجونو کښې او یونیورسټو کښې ډرامېټک کلبونه او سوسائیټۍ جوړې شي ـ دا ښۀ فعال او متحرک وساتو چې مسسل او باقاعده سره ترینه ډرامه کېږي ـ هم دا د سکولونو کالجونو ماشومان به سبا د د ډرامې پوهه او هنر مندان وي او د پښتو ډرامې په پرمختګ کښې به خپل خپل کردار لوي ـ




- د ډرامې په حقله تحقیقي کار او چاپ شوي اثار هم پښتو ادب کښې د نشت برابر وي ـ پکار ده چې دغه خوا هم توجو ورکړې شي ـ او د پښتو ډرامې په حواله سره زیات نه زیات تحقیقي کار وشي ـ پښتو ډرامې زیات نه زیات په کتابي شکل کښې چاپ شي ـد ادب او ډرامې مئن ترې استفاده وکړي ـ په اخره کښې دا خبره ضروري ګڼم چې ډرامه کول یو ټیم ورک دے په دې کښې د لیکونکي او فنکار ډاریکټر او نور هنرمندانو مشترکه کوششونه چې راغونډ شي نو هله ښۀ ډرامه جوړېږي ـ کۀ چرې په یوه ډرامه کښې د پورته ذکر شوې شعبو یوه شعبه هم کمزورے وي نو ټوله ډرامه باندې دغه سره بد اثر غورځېږي ـ او ډرامه پرې خرابېږي ـ ښۀ ډرامه کۀ پخوا وه د هغې صرف او صرف یوه وجه وه هغه دا چې د هغې ډرامې سره تړلې هر هنر مند خپل کار ته وخت ورکولو ـ هوم ورک به ئې  ورته کولو ـ او خپلې زمه وارۍ به هر چا په ډېر ښې طریقې سره سر ته رسولې ـ د ټولو هنرمندانو دغه خوارۍ او لېونتوب چې به کله رایو ځاے شو ـ نو اورېدونکي به ورته ګوته په خلۀ وو ـ هر خوا به واه واه وو ـ ډرامه به کامیابه وه او هر هنر مند به ئې د خپل فن په اسمان د رڼا په پلوشو کښې مسکې مسکې وو ـ موجوده دور کښې هم د ډرامې فن سره تړلې هر هنر مند خپل فن سره دغسې مینه او خواري کول شروع کړي ـ نو پښتو ډرامه به خپل ورک مقام بیا موندې شي او د سیالو سره سیا کېدې شي۔

ماخذونه او حوالې

1. پښتو ادب کښې کردار نګاري ، د ډاکټر اعظم د پي ایچ ډي مقاله۔
2. قند ډرامه نمبر۱۹۶۰
3. ډرامه، افضل رضا
4. ټماشې، پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت
5. پښتو ډرامه(فن پلټنه او کتنه) رشید احمد
6. پښتو ډرامه سل کاله، ګل محمد بېتاب۔

# روپۍ

حسینه ګل



زۀ د خپل ټاکلي هدف يعنې روپۍ ته د رسېدو په اخري پړاو کښې وم ـ دغه لپه دمړي به مې هر وخت د خيال په رومال خوارۀ وارۀ پراتۀ وو ـ  د هرې ادېلې او دمړي سرته به مې يو ارمان ولاړ وۀ ـ ډېر زر به دا ټول دمړي او ادېلې راجمع کړم نقد روپۍ به شي ـ دې نقدې سپينې پړکېدونکې روپۍ به د خيال په ټال يو کاواکه جوټه راکړه ـ  زۀ به ډېر لرې لاړم د خيالي جانان پېښور په ډکو بازارونو کښې به نشه نشه ګرځېدم ـ د شنو بنګړو په لټون خپلې دواړه لېچې به مې د شنو بنګړو نه ډکې ليدې ـ د خپلو بنګړو شړنګا به د سندرو يو جهان ته ورسولم ـ د غزل شهزاده به مې لاس کلک نيولے وۀ ـ  زما دواړه اننګي به د شرمه تک سرۀ تښتېدلي وو ـ د ګډاګانو او شړونو ښاپېرۍ به رانه ګېر چاپېره  په چورلکونووې ـ او بيا به يو شړنګ شو ـ ما به خپلې سترګې ورپولې زما د جمع کړو ادېلو دمړو جومبک به مې مخې ته پروت وۀ ـ بس د څو ادېلو او څو دمړو کمے پکښې پاتے وۀ ـ ماته لا ډېر محنت کول وو ـ د خپلې نيا د خوا نه به نۀ خوزېدم ـ د نيکۀ بابا همسا به مې هر وخت په هغۀ پسې ګرځوله ـ او د خپل داجي نه خو به داسې تاوېدم لکه د شاتو مچۍ ـ دغه ټولې ادېلې او دمړي ما د دې ټولو نه ترلاسه کړي وو ـ ډېر وختونه ئې له ما خوړلي وو ـ ما په ځان ډېر خوارۀ حرام کړي وو ـ اکثر به مې په ورځ کښې درې ځلور پېرې د محمدي کاکا د اټۍ سېل کښې درې ځلور پېرې د محمد کاکا د اټۍ سېل کولو خو حرام دې شي کۀ دخپلې يوې ادېلې په خرڅ کولو مې زړه کېدو ـ ډېرو څيزونو ته به مې خلۀ کښې هسې اوبۀ راتلې ـ په شونډو به مې ژبه راښکله او کور ته به روانه شوم ـ خپلې وړې ادېلې به مې بيا په تورو ادېلو کښې کښېودلې زما کلک يقين وۀ چې دا ځل به د داجي او نيکۀ بابا د لاس په ادېلو دا هدف پوره شي ـ زما ورته  په لاس د هغې شنو بنګړو ته نۀ شو کتلې ـ ډېر په وياړ به ئې وئيل دا مې راته لالا د پېښور نه راوړي دي ـ او دغه د شنو بنګړو سره د پېښور تصور زما د پاره ډېر د ارمان نه ډک وو ـ  ولې چې زما لالا نۀ وۀ ـ خو د شنو بنګړو په لاس کول مې يوه پښتو ګرځېدلې وه ـ ما به هره شپه په خوب کښې په خپلو لېچو شنۀ بنګړي ليدل ـ خو چې سحر به د خوبه راويښه شوم ـ نو دخپلو تشو لېچو ارمان به په سترګو سترګو کښې ژړولم ـ زر به مې د خيال د بدلېدلو په غرض خپله دنيا د لاس رېښمنه کڅوړه د ادېلو او دمړو نه راتشه کړه ـ شړنګ شړنګ د دې دمړو شړنګار

به هم ماته د خپلو لېچو د بنګړو ښکاره شوه ـ زۀ به اوتره غوندې شوم خو بيا به مې د ماشوم زړۀ بې واره بې واره درزا په استقامت کړه ـ يو ځل به بيا د دمړو او ادېلو په شمېره بوخته شوم ـ ماته به هر ځل دې شمېرې ډېر خوند راکوۀ ـ په دې کښې زياتې ادېلې زما د نيا د لاس وې ـ د شپې به مې د هغې په پښو زور کولو او چې د هغې د پښو دردونه به څۀ قدرې قلار شو نو هغې به زر د خپل سرپيچک نه کله کله ادېله يا دمړي زما په لاس کښې راکړو ـ په ما به اختر شو ـ زر به مې په خپله پنګه کښې ورګډې کړې ـ د روپۍ په حساب کښې د څو دمړو کمے تر ډېره وخته وۀ ـ دا کمے نۀ پوره کېدۀ زۀ پرې ډېر خفه ومه ـ زما په تصور کښې به هر وخت تکه سره روپۍ پړقېده ـ

خو اخر هغه ورځ  هم راغله چې زما لاسو ته هغه نقده روپۍ راورسېده ـ زۀ په دغه ورځ ډېره خوشحاله ومه  ـ ماته ښۀ ياد شي په خپله به مې د کلي په بازار کښې د يو دوکاندار نه په ټولو ادېلو او دمړو دغه  روپۍ ترلاسه کړې وه ـ اوس چې د شلو بنګړو تصور په حقيقت بدلېدو خو خبر ولې ؟ د وخت سره سره د انسان خواهشات هم بدلېږي ـ اوس د دې نقدې تکې سپينې روپۍ مخ زما د پاره دومره زورور شوے وۀ چې دې روپۍ زما په ژوند کښې يو خاص اهميت راپېدا کړے




وۀ ـ ما يوه بل فېصله وکړه ـ زۀ به دغه روپۍ مدام د
ځان سره ساتم دا به نۀ خرڅ کوم ـ روپۍ
مې په غاړه لکه د تاويز پرته وه ـ
وخت د دې روپۍ سره
په مخه روان وۀ
ـ زۀ په د ي
حقيقت ر سېد لې
وم چې دا روپۍ لکه
زما د ژوند لويه اثاثه وي ـ خو بيا
يوه ورځ زما نه دغه روپۍ چرته بې درکه
شوه ـ ما ډېره وکتله خو په لاس رانغله ـ داسې ده

چې زۀ پرې هډو پوهه نۀ يم ـ زۀ ډېره خفه وم په سرو سترګو ژړېدم ـ د هغې ورکې روپۍ غم زما د ژوند نه لکه د ناسو چاپېره شو ـ ماته داسې ښکارېده لکه چې د دمړو او  ادېلو په  شمېر او حساب د دې لوئې روپۍ د ورکې غم زما د ژوند د قيمتي اثاثې د ورکېدو غم وي ـ ما به روزانه هاغه ځاے بيا بيا لټوۀ ما به وئيل اوس به مې سترګو ته خپله سپينه روپۍ وپړقېږي خو دا هسې يو خيال وۀ ـ روپۍ چرته وه ـ ما داسې ګڼله لکه د دې روپۍ سره زما د ژوند هره خوشحالي ورکه شوې ده ـ ډېره عجيبه خبره دا وه چې د دې روپۍ د ورکې سره هغه د شنو بنګړو ارمان بيا ژوندے شوے وۀ ـ زړۀ به مې خوږ خوږ درد کوۀ ـ که په لاس راشي نو شنۀ بنګړي به پرې اخلم ـــــــــــــــــــــ ! يوه هيله بيا هم ژوندۍ وه د ورکې روپۍ په لاس راتلل او د شنو بنګړو هيله ـ وخت ددې هيلې سره روان وۀ کلونه تېر شول ـ ـ او بيا يوه ورځ ناڅاپه زما د کور په يوګوټ کښې چرته پټه زما هغه ورکه تکه سپينه روپۍ نيمه نيمه ړنده ړنده زما سترګو شوه ـ ما زر وچته کړه خاورو د دې روپۍ رنګ او ځلا خراب کړي وو ـ خپل هاغه ټول کړاو رامخې ته شو اديله او دمړي ، روپۍ نقدول ،د روپۍ ډېر وخت په مينه ساتل ، شنۀ بنګړي او د روپۍ ورکېدل ـ اُف زما د ژوند څومره کلونه دې روپۍ وخوړل ـ د لېونتوب او د مينې هغه ټولې لمحې مې لکه د نيمګرو ارمانونومخې ته ودرېدل ـ  د ادېلو او د دمړو د ډيري په شان ـ خو ډېر زر د دې تصور د لکه د ادېلو او دمړو دانه وانه شو ـ اوس ما په يو مخ خپلې لاس ته راغلې روپۍ ته کتل ـ  زۀ دېره غلې وم چپ چاپ ـ زړۀ مې  هم ښۀ په استقامت وۀ ـ داسې څۀ شور څۀ غوښا نۀ ښکارېده ـ بس ما په خپلو ګوتو کښې دغه رنګينه روپۍ اړوله را اړوله ـ د تېر ژوند لمحو قطارونه مې مخې ته تلل راتلل ـ اوس د دې روپۍ ارزښت بدل شوے وۀ  په دې روپۍ شنۀ بنګړي نۀ کېدل  ـ او دا روپۍ په بازار کښې نۀ کارېده ـ



# ”ښېره“ د پښتو ادب یو فولکوري صنف

سجادژوندون



ادب د ژوند هنداره وي ـ دغه هنداره د اولس د داخل او خارج عمراني ترجماني کوي ـکه چرې وکتې شي نو هسې خو د ادب لمن ډېر فراخه ده خو ولې هر کله چې ارسطو د ادب تعریف ښودلے دے نو ادب ئې یوې دائرې ته رادننه کړې دے ـ د ارسطو په نظر کښې هر هغه لیک چې تخلیق پکښې شامل وي ادب دے ـ خو ولې ځنې ادب داسې وي چې په غېر شعوري ډول مخې راځي هغې ته اولسي ادب یعنې فولکلوري ادب وئیلے شي ـ د دغه اولسي ادب خصوصیت دا وي چې څنګه ژبه په وجود کښې راځي دغسې ورسره سم اولسي ادب هم په وجود کښې راځي ـ کۀ د ارسطو په نزد هر هغه لیک چې تخلیقي وي ادب دے نو زما په خیال چې هر هغه خبره چې جذباتي وي هغه اولسي ادب دے ـ

په دغه اولس ادب کښې متل مخاوره ، روزمره ، چې څنګ شامله وي هم دغسې کنځل او ښېره هم د دغې ادب حصه وي ـ په پښتو ادب کښې تر ننه په متل او مخاوره پوره کار شوې دے خو ولې ښېره یا کنځل چې د انسان جذبات بېداروي او د یو خاص جذباتي کېفت ترجماني کوي چا پرې داسې ښۀ کار نۀ دے کړے ـ غواړم چې د ښېرې په فولکلوري ادب کښې نشاندهي وکړم او د دې اهمیت مخې ته راوړم ـ

ښېره هغه وخت په وجود کښې راځي کله چې د یو انسان جذبات مایوسه شي یا اعصاب ئې د غصې ښکار شي ـنو د دۀ له خلې نه یوه داسې جمله ادا شي چې هغه یوه ادبي جمله وي خو ولې تر ننه ورته شائد چا سوچ نۀ دے کړے ـ انسان په شعوري او جسماني طور غلام دے خو د انسان لاشعور کله هم غلام کېدے نۀ شي ـ دے کۀ په جېل کښې یا پنجره کښې بند کړې او د سختو نه سخته سزا ورکړې خو د دۀ لاشعور ازاد وي باغي وي دے خپل جنګ جاري ساتي او دغه جنګ د لاشعور یعنې د جذباتو نه راوتے هغه جمله وي چې ښېره ورته وئیلے شي ـ کۀ رښتیا خبره شي نو ښېره د رومانیت غوره هنداره ده ـ ولې چې رومانیت انسان ازاد غواړي او ښېره د انسان د لاشعور د ازادۍ دلیل دے ـ شعور مطلبي کېدے هم شي مظلوم کېدے هم شي لالچي کېدے هم شي خو لاشعور یوه معصومه فرښته وي دا کله هم د عقلي خواهشاتو غلام نۀ شي کېدے ـ

ښېره یوه مخاوره یا متل وي چې کله کله په خپل ځان کښې لکه د مخاورې یا متل خپل یو پس منظر راوړي او دغه پس منظر غوره د ادب دے ـ لکه دغه څو ښېرې چې د روزمرې او مخاورې څومره ښکې نمونې دي د بېلګې په طور ئې نمونې پېش کومه ـ

میردن په پښتنه معاشره کښې یو کردار یادېږي چې ځان ته ئې یو جمات جوړ کړے وۀ دغه جمات چې هر څنګه وۀ خو لازمي ده چې شاړ به وۀ او په پښتنه معاشره کښې حجره یا جمات شاړېدل د شرم او د پېغور خبره ده ولې هر کله چې یو څوک چاته د خوارېدو ښېره کوي نو څۀ په دا ډول کوي چې !

- خدامے دې خوار کړه
- خدامے دې کور د مېردن جمات کړه۔

هم دغسې ملا بادر هم یادېږ چې د اووۀ ښاپېرو د ورور سره بدنام شوے وۀ او بیا ئې هغه وژلے وۀ دغې ښاپېرو ملا بادر د ایلم په غر کښې وژلے وۀ بیا۔ هر څو کۀ دا یو دیو مالائي حکایت دے خو ولې په پښتنه معاشره کښې ورته ښېرې خپل مقام ورکړے دے ـ ښېره څۀ په دا ډول ده !

ائي تۀ په ملا بادر واوړې۔

هم دغسې ډېرې ښېرې داسې دي چې یا خو متل دے او یا مخاوره لکه !

- د چا راغلې درله راشه

(یعنې د بل انسان مرګ دې خدامے تاله راولي)

- په چړق سوړ شي

(په چړق سړېدل په معنه په هغه اوبو هلاک کېدل دي کومې چې له اسمانه په شړق سره لکه د دریاب رابهېږي)

- نیمګړے نیمه خوا روان شې

(نېمګړے نیمه یعنې خدامے دې یو ارمان هم پوره مۀ کړه۔)



- په پردو پښو راشې

(په پردو پښو راتلل مطلب مړ کېدل دي چې چې انسان دې په کټ کښې راوړي)

- مور دې سر ته کښېنه

(يعنې مړ شې چې مور درته وژاړي)

- په لېونو سپو مات شې

(په لېونو سپو ماتېدل هم مرګ دے هم لېونے کيدل دي )

- خونه دې ړنګه شه

(خونه ړنګېدل يا خو بدرنګېدل دي يا مړ کېدل دي)

- په خپله تُوره ووهلې شې

(يعنې چې بل انسان په مرګ کښې ککړ نهٔ شي )

- په ځوانۍ راونړېږې

(په ځوانۍ کښې مړ شې)

- په ځان اخته شې

(په ځان اخته کېدل يا خو په بيمارۍ اخته کېدل دي يا د ځانه جنسي لذت اخستل دي چې د تباهۍ سبب دے)

هم دغسې کهٔ دا ښېره مونږه وګورو نو د ادب په نورو اصنافو کښې ئې هم ځان ځاے کړے دے ـ لکه دا شعرونه چې !

خوشحال خټک:

د هغې شاعر دانې وشه په ژبه

چې د شعر دردانې پلوري په مال

فضل سبحان عابد

خدايه ور په غاړه کړې ټوپک ورته د ټول عمر

څوک چې قلم نهٔ پرېږدي زما د پښتنو سره

هم دغسې د پښتو ټپه هم يو شمېر داسې ټپې لري چې پکښې د ښېرې ذکر شوي وي او خپل يو فولکوري خواږهٔ لري لکه دا ټپې!

د پلار ئې ګډې بزې مړې شه

چې وړه لور ئې له ورغومې خلاصه شينه

ثانګې نرۍ ئې لکه لښته

مور دې ړنده شه چې په تا اوبهٔ راوړينه

په اباسين دې خداے لاهو که

چې دې په مخ د زمکې نهٔ وينم لاليه

سُورے سُورے په ګولو راشې

د بې ننګۍ اواز دې را مهٔ شه مئينه



# خیرنې جامې

ایازالله ترکزے



نن د مېمونۍ سکول ته د تلو زړهٔ نهٔ وو، خو سبق سره ئې دومره مینه وه ، که هر څومره ئې زړهٔ نهٔ منله خو بیا هم سکول ته لاړه، څنګه چې په سکول داخله شوه، اسمبلي شروع وه، ټولې جینکۍ په قطارونو کښې ولاړې وې ـ دَ هر یو کلاس جینکۍ په یو یوطرف ولاړې وې، تلاوت کېدهٔ، دَ تلاوت نه پس قومي ترانه ووئیلې شوه او بیا ورپسې دعا اوشوه ـ د دعا نه پس هېڅ مس ووئیل چې ټولې جینکۍ په خپل خپل ځائے اودرېږئ، چې صفائي چېک کړو۔ هېڅ مس په یو یو قطار ګرځېده او دَ یوې یوې ماشومې جامې ، نوکونه، بوټان یا چپلې او وېښتهٔ ئې کتل ـ مېمونه خپل کلاس فېلوسره په قطار کښې ولاړه وه، هېڅ مس لا دې ته نهٔ وه رارسېدلې، مېمونۍ چې خپلو جامو ته وکتل نو په لاسونو ئې وڅنډلې خو په څنډلو چرته کېدهٔ، ځکه چې خیري ورباندې کلک نښتے وو ـ مېمونۍ ته چې پته ولګېده چې دا خو په څنډلو نهٔ کېږي نو اول ئې غلې غوندې هېڅمس ته وکتل چې کوم ځائے سره ده او بیا ئې خپله لمن په دواړو خپو کښې ګېره کړه چې هېڅ مس ته نهٔ ښکاري او داسې ناجانه شان ودرېده ـ خو چې کله هېڅ مس مېمونۍ ته راورسېده او مېمونۍ ته ئې وکتل نو اول خو لګه شان مُسکۍ شوه او بیا ورله غصه وراغله، مېمونه ئې دَ مټ نه ونیوه، وې جقوله، راوئې جقوله او ورته ئې وئیل چې ”تا پرون هم په دې جامو وهل خوړلي دي، نن بیا هم په دې جامو کښې راغلې ئې، تاته ما پرون وئیلي نهٔ وهٔ چې سبا به په صفا جامو کښې راځئ ، تهٔ لکه چې په خبره نهٔ پوهېږې، شابه لاس اُونیسه ” هېڅ مس اول په یو لاس دوه چُوکې ووهله او بیا ئې په بل لاس دوه ګزاره ووهله، مېمونه په ژړا شوه، خو دَ هېڅ مس دَ وېرې ئې دننه دننه سلګۍ وهلې، مېمونه دومره لویه جینۍ هم نهٔ وه، ټول عمر به ئې اُووهٔ (۷) کاله وهٔ او په دریم کلاس کښې وه ـ نرم او نازک لاسونه ئې وهلو سره چرته عادت وو ـ چې اسمبلي او دَ صفائې چیک نه پس ټولې جینکۍ خپل خپل کلاسونو ته لاړې او مېمونه هم خپل کلاس ته په سلګو سلګو لاړه ، دَ کلاس مس ورته سبق ښودلو خو مېمونه ډېره خفه او اُورکه اُورکه ناسته وه او سبق ته ئې هېڅ توجه نهٔ وه، دَ کلاس مس ورباندې نظر پرېوتهٔ او مس مېمونۍ له خوا ته وراغله او په دلاسه ئې ورنه تپوس وکړو چې ” مېمونۍ بچې مور ته دې وایه چې صفا جامې درکوي او بیا دې سکول ته رالېږي، نو بیا به دې هڅو مس نهٔ وهي، دا ستا درېمه ورځ ده چې روزانه وهل خورې ”

